مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح‌الدین سعیدی ۲۰۲۵/۱۱/۰۹

# بې ځایه او نادرسته وړاندیز

د ترکيي په هېواد کې د پاکستاني او د افغان ديفکتو حاکميت تر مېنځ درېيم پړاو د پاکستان د علني بهانه ګیرئ او حملي په هکله چي د دالرو په مزه ورته جنرال آصف منير تيکه اخيستي او دوست هېواد ترکيه او قطر مرسته کوي چي افغانان او سيمه کي بی ګناه انسانان نور ضرر و نه ويني، بوه آجندا لرلای شي او هغه ددې نوو اتهاماتو، مطالباتو او بهانو د له مېنځه وړلو، رفع کولو او ټيټولو په هکله د دواړو حاکميتونو ميکانيکی خبرې، تعهدات او د قطر او ترکيي نظارت او د نړۍ سترګي خلاصول، خپل دريز روښانول، مستندات وړاندې کول او د حل مؤقتي لارې لټول او متخلف د دنيا په سترګو کي ملاتمول دي !

د اوسني د پاکستان د بهانو او تهديد مخکي د عدم تهديد ستاتوت او حالت صرف ساتل دي!

دلته د کوم بنيادي کړکېچ چي هغه د پاکستان نامشروع جوړېدل، پر افغان خاوره، وي او دا بنيادي او تأريخي افغان شموله مسايل د حل او بحث حق دلته دوی نه لري او دغه بحثو کې بيا هغوی چي د بارډر منجمنت کميته يي ايجاده او ډېر افغان او افغانستان ضد پټ او برالا سندونه يي امضاء او د تورخم دروازې يي پرې افتتاح کړې او مراسمو کي يي بياني او قلقلي وکړې، د ګډون حق له سره لري او داسي اړتيا شته او نه مؤثر کار دی!

که جناب ... ويلي وايي چي د افغان تخنيکي تيم تر شا بايد قوي فني، مسلکي او حقوقی تيم وجود ضروري او اړينه ده چي تر څو د ملا محمد يعقوب مجاهد د اولي ناستي تېروتني د لمړۍ ناستي غوندې تکراري، نه شي نو بيا به مي ويلي وای چي دا تأکيد او دا مشرړ او غوښتنه بو منطق او مانا لري !

له دې په غير د پاکستاني او موجوده افغان د ترکيي اوسنۍ ناستي نه هغه د دوحي ( ۲۰۲۱م. ) کال قصه او نوري ټولګډونه حکومت او ببولالای جوړول جوړول بې معنی تأکيد او نادرسته خبر ده! بې مضموني او په هر قيمت ځان مطرحول دي !

اوس اوس تجارب او درايت دومره ارت ، پراخ او ژور شوای چي دوکو ته فرصت نه شته! بو چي د خبرې سر وکړي هغه بل يي په آخر پوهېږي !

نو پاکه، صادقه او د منطق خبر کول په کار ده !

بې منطقه داده چي پاکستان د خپل وظيفه او کار په بدماشۍ او د دالرو په خوند، په ټوله پاکستانی سپين سترکی پر افغان طالب حاکميت تحميلوي او ددې د شرم خبرې له ويلو هم په پاکستانی بې شرمی، شرم او عار نه لري !

نو په توګه ترکيه کي د طالب د حاکميته په اوسنۍ ناسته (۲۰۲۵/۱۱/۹) کي پرته د دواړو خواوو ( دواړو حاکميتونو ) نه په غير نور افغانان راغوښتل او کېښنول زمينه نورو سترو تأريخي خيانتو ته برابرول دي! په دې توګه د نورو افغاني خواوو ( کومو افغاني خواوو!؟!؟) د دعوت او ګډون وړانديز بي معنا او عين حال کي دښمن د سوء استفادي فرصت، وړانديز دی !

هغه د مکتب دورې زمونږ د توکو لنډ سفارش چي د عربي او دري د توکو ترکيب دی، را ياد شي، چي به مووېل: سکوتک خوش آوازيون- ( د بې ځايه خبرې له کولو نه دې سکوت خوش آوازي ده!).

د ص سعيدی
۲۰۲۵/۱۱/۹



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ